# د زرداد جنده خېل د بهرام شهزاده او ګل اندامې قیصه

## The Romance Narative “Bahram Shazada and Gul Andama as narrated by Zardad jandakhel

ډاکټرعبدالله جان عابد*

**ABSTRACT:**

Pashto literature has a rich tradition of folk tales but the same asset is going to be collapsed. Because requisite heed is not paid to its preservation. The tale discussed in the present research is one of the most important. The tale of Behram Shehzada and Gulandam has a varied historical, social, and linguistic background. It is believed to have originated from Nizam Ganjvi's "Khamsa Nizami" in Persian language. It has also been written in various Pakistani languages including Pashto, wherein its ten different versions are available. The present study gives the introduction and analysis of its second version, in chronological terms, written by Zardad. This paper gives introduction of manuscript of the tale, a biographical sketch of the writer, based on the researcher's field research, and in its last section, the analysis of its art, craft and subject matter.

د بهرام شهزاده او ګل اندامې قیصه زرګونه کاله زړه ده، چې بنیاد ئې د نظام ګنجوي په "خمسه نظامي" دی- په "خمسه نظامي" کښې دغه قیصه د "هفت پیکر" یا "بهرام نامه" په نامه راغلې ده، چې د مثنوۍ په بڼه ده- وروستو بیا په نورو مشرقي ژبو کښې دغه قیصه د "خمسه نظامی" د روایت په بنیاد لیکلې شوې یا ترجمه شوې ده- یواځې د پاکستان په مختلفو ژبو (اردو، پنجابۍ، سندهۍ، پښتو، بلوچۍ او سرائیکۍ) کښې د دغې قیصې ګڼ روایتونه موجود دي-

په پښتو ژبه چې کومو عوامي شاعرانو دغه قیصه نظم کړې ده، په هغو کښې فیاض، زرداد جنده خېل، ابراهیم شاه، امان ګجراتی، نورصاحب روغانیوال، حافظ عظیم، مُلا احمدجان، مُلانعمت الله،

---

*Incharge, Department of Pakistani Languages, Allama Iqbal Open University Islamabad

عبدالحکیم او مجیب شامل دي- په دغه ټولو کښې د فیاض قیصې ته اولیت حاصل دی- دغه قیصه نومیالي محقق خیال بخاري ایډټ کړې ده او په ۱۹۸۱ء کښې د پېښور پښتو اکېډمۍ خپره کړې ده- د دغه قیصې دویم ناظم زردادجنډه خېل دی، چې تراوسه پورې د پښتو ژبې او ادب ټول معتبر منابع د هغهٔ او د هغهٔ د قیصې په باب چپ دي او یواځې یو څو یادونې ئې په مقامي توګه راغلې دي- دغه قیصه خوا و شا دوه سوه کاله زړه ده.

د زردادجنډه خېل بهرام شهزاده او ګل اندامې د قیصې قلمي نسخه: ما د نن نه اوویشت اتهٔ ویشت کاله وړاندې د خپل یو ادبي ملګري شکیل احمد شفیق په مرسته بازیافت کړې وه، چې نهٔ یواځې په دې لیکنه کښې ئې معرفي کوم، بلکې د زرداد جنډه خېل د سوانحي کوائفو په پرته، د دې قیصې فني، فکري او موضوعاتي خواؤ باندې هم د رڼا اچولو هڅه کوم:

[1]

د زرد اد جنډه خېل د بهرام شهزاده او ګل اندامې د قیصې دا قلمي نسخه نجیب الطرفېن ده، خو په مینځ کښې یې یوه پاڼه (۳۱ او ۳۲ مخونه) لوېدلې او بله (۳۹ او ۴۰ مخونه) د نیمې نه زیاته شلېدلې ده - نسخه په دوه پنځوس (۵۲) مخونو مشتمل ده، خو د بهرام شهزاده او ګل اندامې قیصه په اتهٔ څلوېښتم مخ پای ته رسېدلې ده- د یو کم پنځوسم (۴۹) مخ نه تر دوه پنځوسم (۵۲) مخ پورې د زرداد جنډه خېل دوه غزلې، یو نعت او یوه مرثیه راغلې ده، مرثیه د نصرالله جان خان په مرګ لیکلې شوې ده-

د نسخې په هر مخ اوسطًا دولس بېتونه درج دي او د کاغذ رنګ یې بادامي دی- نسخه مجلد ده- د جلد قطع یې 21/½ ×12/½ انچ او د متن قطع یې 17/½ × 10/½انچ ده- متن د دوو کرښیزو سرو چوکاټونو دننه لیکلی شوی دی، چې عنوانونه ورته په سره سیاهۍ لیکلي شوي دي- ټوله نسخه په نسخ خط لیکلې شوې ده- د قیصې زیاته برخه د یو کړېزې او

کمه برخه د دوه کړېزې بدلې په هېئت، په دولس څپېز بحر کښې ليکلې شوې ده- کوم چې د قصو او داستانونو د پاره زيات موزون بحر ګڼلی شي-

د نسخې په ترقيمه کښې کاتب د کتاب د کتاب او خپل نوم نه علاوه د کتابت تاريخ، مقام وغېره درج کړي دي- ترقيمه دا ده:

تمام شد کتاب شهزاده بهرام از تصنيف زرداد قوم جنډه خېل موضع قريۂ خويشگی ضلع پشاور در تپۂ هشتنگر درمسجد هندکی از يدِ فقير حقير پُرتقصير خاک پائی علماوالصلحا و جميع اهل کمال عاصی گل محمد ساکن ايضًا، درحکم فرنگ بتاريخ، ۲۰شهر جمادی الاول ۱۲۳۷ه.

ان شاء الله تعالی که اندک از نويسنده باشی وبسيار از مصنف باقی:

آنکه هر کس که خواند دعا (ی) طمع دارم
زانکه من بندۂ گناه گارم

و بروز يکشنبه

اللهم اغفرلکاتيه والوالديه والجميع المسلمين والمسلمات

د ترقيمې نه علاوه کاتب د نسخې په وړومبي مخ د متن شروع کېدو نه وړاندې هم يو نوټ ورکړی دی چې په لاندې مندرجاتو مبني دی:

(باد) را قدرت تو داری هر چه خواهی آن کنی
مرده راجان به بخشی زنده رابی جان کنی
----- بخت ازشاهان سنائی آرزو يک نان کنی
هر گدای راکه خواهی از زمان سلطان کنی

رب اغفر و ارحم و انت خيرالراحمين

اين کتاب بهرام شهزاده پسر کشور ساکن موضع شهرچين که بردوختر(دختر) شاه (روم؟) مسماة گل اندام مبتلاشده بود از تصنيف شيخ زرداد قوم جنډه خېل موضع خويشکی از دست خط فقيرالمفنفر الی رحمت الله عاصی گل محمد ساکن ايضاً و نيز مبتلا بود بر---------

وافـــوض امـــری ای الله ان الله بفـــر بالعبـــاده
وآن جهـــاز فاطمـــه بالشـــت چـــادر بوریـــا
کاسه و نعلین هم مسواک ------

د نسخې د کاتب نوم ګل محمد دی، چې دغه نسخه يې د يو انګريز په حکم ليکلې ده، خو دا ګل محمد هغه معروف او نوموړی کاتب ګل محمد پېښوری نهٔ دی، څوک چې په نسخ او نستعليق دواړو خطونو کښې د کمال خاوند ؤ او د رحمان بابا د منقش ديوان نه علاوه ګڼې پښتو قلمی نسخې يې په ښکلي خط ليکلې دي- د ساکن ايضًا د لفظ نه دا خبره ښکاره کېږي چې دی هم د خوېشکو اوسېدونکی ؤ او غالبًا د هندکو د جومات امام ؤ ځکه چې دهٔ دا نسخه هم دغلته ليکلې ده- دا ګل محمد د معمولي استعداد خاوند ښکاري، ځکه په متن کښې ترې ځای په ځای مصرعې د وزن نه خارجې شوې دي-

د املا څهٔ خاص اصول هم د هغهٔ پېش نظر نهٔ وو ځکه نو د يو لفظ کتابت په مختلفو ځايونو کښې مختلف په نظر راځي- د مثال په توګه:

خرځ -------- خرس، خرص
صيغه -------- سيغه، صيغه
ائين --------- اهين، ائين

او د ځينې لفظونو د صحيح هجو نه خو کاتب بيخي ناخبره دی. څو مثالونه يې ملاحظه کړئ:

اثر ------- اسر
بې شعور ------ بې شهور
تعويذ ------ تعويض
صنوبر ------- سنوبر
طبيب -------- تبيب
کوثر -------- قوثر
وصال -------- وسال

د املا د قدیم طرز مطابق عمومًا دوه یا درې لفظونه یې یو ځای لیکلي دي، د مثال په توګه:

پمینه --------- په مینه

پلاس --------- په لاس

پهر --------- په هر

پدار --------- په دار

پواسطه --------- په واسطه

پدستخط --------- په دستخط

پجهان --------- په جهان

پعقل ----------- په عقل

پهنر ----------- په هنر

په پوره مخطوطه کښې د ځ په ځای ځ استعمال شوی دی لکه ځما، ځائی، ورځ، په ځای د زما، ځای، ورځ، - او دغسې چرته چرته د "ز" په ځای هم "ځ" استعمال شوی دی لکه ځما (زما)

په ټوله نسخه کښې د هندي کاف "گ" په ځای "ک" لیکلی شوی دی- لکه کذار، روزکار، کوله، لوکی په ځای د ګذار، روزګار، ګوله، لوګی-

په ټوله نسخه کښې د یایې مجهول او یایې معروف په ځای یوازې د "یا" دغه شکل "ی" پکارولی شوی دی، یعني د یایې مجهول لاندې دوه نقطې اچولې شوې دي-

[2]

د زرداد جنډه خېل او د هغهٔ د قیصې (بهرام شهزاده او ګل اندامه) تذکره په اول ځل ما د سېد محمود صادق خوېشکي په هغه نظم کښې لیدلې وه، په کوم کښې چې د خوېشکو د تېرو شاعرانو یادونه شوې ده او د خوېشکو د خاورې عظمت ته په کښې پېرزوئنې وړاندې کړې شوې دي- د نظم متعلقه بند دا دی:

ځــــومره نومـــــوړي شــــاعران تــــا ژېړولـــــي دي
مصــنف د ګــل انــدامې د بهــرام يــو زرداد خــان ؤ
وخــت پــه وخــت پــه مــخ دې اديبــان واړه راغلــي دي
کتــــاب هــــم د اخــــون محمدســــعيدمکرزنان ؤ
لعـل بـاز خـو ملغلـرې پـه دې فـن بانـدې شـيندلي دي
بــل صــاحب زاده غيــاث الاســلام، صــاحبِ ديــوان ؤ
اوس هم په شاعرۍ کښې ژوندی نوم د شېرعلي اوسي
د تېــرو شــاعرانو فصــاحت وتــه ســلام کــوم (۱)

بيا د " ادبي ځهرې" (کومه چې د خوېشکو د ژوندو شاعرانو تذکره ده) په "پېش لفظ" کښې مې د زرداد په باب دغه نوټ لوستې ؤ:

"اوس زۀ د هغه تېرو شاعرانو ذکر کوم، کوم چې د موجوده څېړنې او ياداشت مطابق خاص د دې کلي سره تعلق لري---- په دې لړ کښې د ټولو نه وړومبی شاعر زرداد جنډه خېل خوېشکي (المتوفي ۱۸۸۲ء) دی، چاچې د فياض نه علاوه د ګل اندامې او بهرام شهزاده قيصه ليکلې ده"(۲)

په پاسني اقتباس کښې د زردادجنډه خېل د مړينې نېټه ۱۸۸۲ء قياسي ده- تراوسه د هغوي د مړينې صحيح نېټه نۀ ده معلومه-

هم په دغه وختونو کښې فرهادمحمدغالب ترين د خوېشکو په پخوانو شاعرانو چې کوم نوټونه ليکلي دي، په هغو کښې هم د ملک شېرعلي بابا په تذکره کښې، هغوي په ضمنی توګه د زردادجنډه خېل او د هغۀ د قيصې ذکر وړومبی په "غر" رساله کښې کړی دی:

"دغه رنګ د زرداد نومې شاعر د "بهرام ګل اندامې" د کتاب په اخر کښې هم د ملک بابا کلام شائع شوی دی" (۳)

او بيا په ۱۹۹۳ء کښې يې "د ضلع نوښار تېر هېر شاعران" نومې تذکره کښې په دغو الفاظو د مذکوره قيصې يادونه کړې ده-

"د لال کړک سنګه. تاجران کتب قيصه خوانۍ بازار پېښور له اړخه چې د شهزاده بهرام او ګل اندامې، کوم کتاب د زرداد اخون خوېشکي شائع

شوي ؤ، د هغې په اخر کښې هم د ملک بابا يو څو غزلې شائع شوي دي"(۴)

په پاسنيو دواړو اقتباسونو کښې د زرداد جنډه خېل بهرام شهزاده او ګل اندامه چاپ قيصه ياده شوې ده، خو د تعجب خبره دا ده چې د پښتو ژبې او ادب ټول ادبي تاريخونه، تذکرې، کتابيات او نور منابع په دې حقله په کلي توګه خاموش دي-

راقم الحروف هم په خپل کتاب "پشتو زبان و ادب کی مختصرتاريخ" (۵) کښې د بهرام شهزاده او ګل اندامې د قيصې په ناظمانو کښې د زرداد جنډه خېل يادونه کړې ده-

بياد مذکوره قيصې اخري يادونه د پښتو اکېډمۍ د لائبرېرۍ د قلمي نسخو په فهرست کښې شوې ده- د دې فهرست مرتبينو اول د قيصې د قلمي نسخې مختصر کوائف درج کړي دي او بيا يې په اخر کښې دا لاندې درج مختصرنوټ ليکلی دی:

"It is a famous folkloric versed story written by Zardaad. In the end the poet commends Nasrullah Khan who was a "Khan" of the area."(6)

ترجمه: (دغه د زرداد ليکلې يوه داسې قيصه ده چې په اولسي سطح ډېره مشهوره ده، په اخر کښې شاعر د دې سيمې يو مشر نصرالله خان ستائينه کړې ده).

پرته له دې د پښتو ژبې او ادبياتو ټول اهم او بنيادي منابع د زرداد جنډه خېل او د هغهٔ د قيصې (بهرام شهزاده او ګل اندامه) په باب چپ دي، ځکه نو د شاعر متعلق د معلوماتو يواځې يو ماخذ دی او هغه د هغهٔ قيصه بهرام شهزاده او ګل اندامه ده- خو دا ماخذ هم مونږ سره د هغهٔ د ژوند د حالاتو رابرڅېره کولو په لړ کښې څهٔ خاص مرسته نهٔ کوي- البته کوم معلومات چې ما د دې متن د تدوين په اوان راجمع کړي يا اخذ کړي دي، هغه دا دي:

د شاعر اصل نوم زرداد دی، چې تصدیق یې د هغې شجرې نه کېږي کومه چې ما په دې لړ کښې د پټوارخانې نه ترلاسه کړې ده (عکس یې په ضمیمه کښې وګورئ)- د زرداد تخلص څهٔ دی؟ په دې باب هېڅ معلومات ترلاسه نهٔ شو، البته هغهٔ په ټوله قیصه کښې خپل اصل نوم (زرداد) د تخلص په ځای راوړی دی-

زرداد په خوېشکو کښې په قام جندړه خېل دی، چې د قلمي نسخې ترقیمه او د پټوارخانې شجره یې تصدیق کوي-

د ۱۸۷۰ء د بندوبست مطابق: جنډه خېل د کوزه خوېشکو د اتو کندو نه یو دی- په دغه کندي کښې جنډه خېل او شپانۀ دواړه شامل دي- د جنډه خېلو د کندي د ټل نوم "ټل حبیب بابا" دی- د جنډه خېل قوم د وجه تسمیې په باب زمونږ د کلي مشران دا روایت په خاص توګه بیانوي چې کله په 62-1861ء کښې د خوېشکو او نوښار ترمینځه په پوله جنګ ؤ، نو د جنډه خېل قوم وګړي جنډه په لاس په دغه جنګ کښې د هر چا نه وړاندې وو او د ټولو قومونو په نسبت جاني زیان هم دې قوم ته رسېدلی ؤ- خو د یو بل روایت ترمخه جنډه خېل په اصل کښې "جهاندادخېل" دي-

زرداد په خپل قوم جنده خېل کښې ښهٔ صاحبِ حیثیت اوصاحبِ جائیداده سړی ؤ او دغه جائیداد د هغهٔ د څلورم پُشته پورې محفوظ ؤ، خو مشران وائي چې هر کله پرې د هغهٔ د کړوسي خوئېداد وار راغلو- نو هغهٔ په خلاص مټ خاني چلوله- له دې سوبه هغهٔ د جائیداد زیاته برخه خرڅه او نوره یې ګانه کړه- مشران وائي چې خوئېداد د ښکار شوقین ؤ، ښکاري سپي ساتل او هغو له سوچه غوړي ورکول د هغهٔ خوږه مشعوله وه- وائي چې هغهٔ به کله کورته غوړي راوړل نو اول به یې په سپو جوټه کړل چې زنانه یې د اخلي پخلي د پاره استعمال نهٔ کړي- نن هم په دغه حواله په ګېرچاپېره علاقو کښې دا متل مشهور دی: ''کهٔ د خوئېداد سپی وی نو غوړي خو به مې څټل''-

د زرداد د زوکړې او مړينې کلونه نۀ دي معلوم، خو په ۱۸۷۰ء کښې يقيناً ژوندې ؤ ځکه چې په ۱۸۷۰ء /۱۲۸۲ه. کښې د خوېشکو د زمکو کوم بندوبست شوې دې په هغې کښې زردادجنډه خېل د جائيداد مالک ګرځولې شوې دې- په دې حساب زرداد جنډه خېل د ديارلسمې صدۍ هجرۍ شاعر دې او د هغۀ د قيصې دا زېربحث قلمي نسخه هم د هغۀ په ژوند ۱۸۲۲ء/۱۲۳۷ه. کښې ليکلې شوې ده- هر کله چې د هغۀ ژوند ۱۸۷۰ء پورې يقيني دې نو دا اندازه لګول څۀ ګرانه خبره نۀ ده چې د بهرام شهزاده او ګل اندامې دا قيصه د هغۀ د ځوانۍ د زمانې يادګار دې - د دې نه پس به هم يقيناً چې د هغۀ فن د ودې، پرمختيا او پراختيا ډېرې مرحلې سر کړې وې خو افسوس چې د هغۀ هغه کلام تراوسه لاد تيَرو په کومې کښې دې-

د زرداد جنډه خېل د بهرام شهزاده او ګل اندامې قيصه د قلمي نسخې په ۴۸م مخ پاې ته رسېدلې ده، خو د دې نه وروستو د هغۀ دوه غزلې، يو نعت او يوه مرثيه هم د نسخې په اخر کښې ورکړې شوې دي- مرثيه د نصرالله جان خان په مړينه ليکلې شوې ده- دا غالبًا هغه نصرالله بابا دې، چې د خوېشکو د خېره خېلو د کندې "تهل" يې په نوم دې- د خېره خېلو کندې د خوېشکي پايان د اتو کندو نه يو دې- په دې کندې کښې خېره خېل، ګوګيان او حبيش خېل شامل دي او د دې کندې د تهل نوم "تهلِ نصرالله بابا" دې- د پټهوار خانې د رېکارډ ترمخه زرداد جنډه خېل او نصرالله بابا دواړه د يوې زمانې خلق دي- زرداد په خپله دغه ياده شوې مرثيه کښې نصرالله جان خان خپل محسن ياد کړې دې او شايد د مرثيې ليکلو يوه وجه يې هم دغه وې- د مرثيې درې شعرونه ولولئ:

جدائۍ يې خلقه هسې رنګ زهير کړم
چې طاقت مې د زړۀ نشته د بيان
څو صفت به د هغۀ کوم عالمه
ما قربان کړې د هغۀ له خاورې ځان

پــه ژونـــدوني يـــې دېـــر ښـــۀ راســـره کـــړي
ځکـــه اوس يـــې لاتـــدې يمـــه تـــر احســـان

د بهرام شهزاده او ګل اندامې د قيصې له مطالعې څخه ښکاري، چې زرداد ښۀ لوستی سړی ؤ- د عربي، فارسي او هندي اثارو مطالعه يې لرله- ځکه نو په دې قيصه کښې يې ځای په ځای د دغو ژبو ټکي او ترکيبونه پکارولي دي- پرته له دې د قيصه ايز او داستاني ادب مطالعه يې هم ښه پراخه وه، ځکه نو د عربۍ، فارسۍ، هندۍ او پنجابي ادب داستانونه، قيصې او د هغو کردارونه يې ځای په ځای ذکر کړي دي- څو مثالونه يې ولولئ:

وفـــا څـــۀ وکـــړه لـــه ګلـــه صـــنوبر يـــې
تـــاچې ســـترګې کړلـــې کلکـــې بـــې حيـــايې

چـې مـې واورېـدۀ صـفت خـدای پـرې مئـين کـړم
لکـــه مينـــه د شـــېريني د فرهـــاد
ســـتا صـــفت زۀ پـــه تمـــام عـــالم رســـوا کـــړم
تـــۀ لـــېلا شـــوې زۀ مجنـــون غونـــدې بـــې مـــراد
د اســـې مينـــه محبـــت مـــا ســـره وکـــړه
لکـــه شـــۀ رانجهـــا د هيـــر پـــه مينـــه ښـــاد
داســـې جـــور و جفـــا تـــۀ راســـره مـــه کـــړه
کـــړه صـــاحبه، د مـــرزا مينـــې بربـــاد

شـــيرينۍ لُـــور د بادشـــاه، فرهـــاد فقيـــر ؤ
همېشـــه بـــه پـــه دۀ ســـاز د غـــم بهيـــر ؤ

-------

مـــا قيصـــه د شـــېرينۍ کـــړه درتـــه يـــاده
ترېنـــه پـــاتې شـــۀ فرهـــاد فقيـــر بـــې مـــراده

دا فرهـــاد خـــو یـــو فقیـــر ؤ ســـتا پـــه رنـــګ
هـــیڅ تـــدبیر اســـباب یـــې نـــۀ لـــرۀ د جنـــګ

پاسني مثالونه دا حقیقت هم رانمايي چې زرداد جنډه خېل دغه قیصه په داسې دور کښې لیکلې ده، په کوم کښې چې داستانونه ښۀ مقبول شوي وو- دا د پښتو د معلومو منظومو داستانونو د وړومبي دور یو داسې پړاؤ ؤ چې مونږ ورته د پښتو داستان یاقیصې د عروج د دور شروعات وئیلی شو- د دې نه پس د نولسمې صدۍ د اواخرو نه واخله د شلمې صدۍ د اواخرو پورې د پښتو داستان د عروج دور دی- په دې دور کښې په شلګونو پښتو داستانونه لیکلې شوي دي-

د زرداد جنډه خېل د قیصې نفسیاتي اړخ دا حقیقت راښکاره کوي، چې زرداد هم په دغه دور کښې خپل ځان د پښتو داستان لیکنې په دغه بهیر کښې شاملول غواړي- هغه یقینًا چې د فیاض د قیصې د مقبولیت او شهرت نه په ښه توګه اګاه ؤ- د هغۀ د ځینو شعرونو نه دا اندازه هم لګي چې په دغه وختونو کښې د دۀ نه وړاندې دغه قیصه یواځې فیاض نه بلکې نورو شاعرانو هم لیکلې وه- خو هغه هم ځان په دغه قطار کښې ودرول غواړي، چې د شمېره ونۀ وځي او نوم یې تل پاتې شي- د هغۀ په دې لاندې شعرونو کښې دغه بیان شوی نفسیاتي کېفیت بیخي واضح دی:

د زرداد وئیـــل خـــوارۀ اثـــر یـــې نـــۀ شـــته
پـــه لغـــات برابـــر نـــۀ دي لـــه فیاضـــه

زیـات و کـم دی پـه کښـې هـر شـاعر وئیلـی
هـــم صـــحیح قـــول دغـــه دی د زرداد

ماښـۀ وکـۀ سـتا پـه مینـه کښـې ګفتـار
شـۀ زرداد پـه شـاعرانو کښـې روئیـدار

ښۀ ایمان یې کړې روزي عمر یې زیات کړې
چې قیصې یې د عاشق واره اورات کړې

[3]

د مقالې په دې برخه کښې به د زرداد د قيصې فني، فکري او موضوعاتي جائزه اخستلې شي.

په فني حواله د زرداد جنډه خېل دا زيرِ بحث قيصه نزدې نزدې هغه شرائط پوره کوي، کوم چې داستان د پاره د دې فن عالمانو بيان کړي دي. طوالت، ضمني قيصې او د تخيل رنګ امېزي د داستان بنيادي فني توکي ګڼلی شي. د زرداد جنډه خېل په دې زيرِ بحث قيصه کښې د دغو شرائطو تر يو حده خيال ساتلی شوی دی. د داستان بل يو خاص وصف د مافوق الفطرت څيزونو، مقامونو او کردارونو بيان وي، چې يو مهم جو مثالي کردار په کښې هيرو وي. اوس چې په دغه تناظر کښې مونږ د زيرِ بحث قيصې مطالعه کوو نو په دې قيصه کښې حېرانوُنکي مافوق الفطرت څيزونه، مقامونه او کردارونه موجود دي او د مثالي هيرو کردار په کښې هم ښۀ جوت دی چې د خپل مقصد د حصول له پاره مهم جوئي يې خاص وصف دی، دغه مثالي هيرو بهرام شهزاده دی. دغسې په دې قيصه کښې د نورو غېر معمولي کردارونو، حالاتو او واقعاتو په مرسته غېر معمولي فضا په نظر راځي، دغه غېر معمولي کردارونه د سپفور، قماش، شماس، اپرا دېو، هما مارغۀ او نورو پېريانو، دېوانو په صورت کښې ظهور لري ځکه نو په دغو حوالو مونږ وئيلی شو چې دا قيصه په پښتو کښې د داستان نمائندګي کوي.

د زرداد جنډه خېل د "بهرام شهزاده او ګل اندامې" دا قيصه په خپل نص کښې په فکري او موضوعاتي حواله متنوع رنګونه لري او د ژبې او بيان په حواله هم بې پناه خوبۍ لري، په لاندې کرښو کښې هم په دغو رنګونو او خوبيو يو ځغلند نظر اچولی شي.

مذهبي رجحان:

د زرداد جنډه خېل د بهرام شهزاده او ګل اندامې د قيصې اغاز د شاعر د مذهبي رجحان پته راکوي. شاعر بالکل په شروع کښې حمدباري

تعـالی بیـانوي- شـریعت برحـق او ښغـه لاړ ګڼـي، د ازل د ورځـې د وعـدې یادونه کوي او د دوزخ د اور نه امان غواړي:

(تـهٔ) اول صـــفت د خـــدای کــولی بویـــه
فکـــر ســـم کــړه برابـــر د ادم زویـــه
چـې قــدم لــه لاري کښـېنږدې بـې لارې
شـــریعت دې ســـمه لاړ برابـــر بویـــه
د صــراط لاړ شـــریعت تېـرهٔ لـــه تېغـــه
نرمـــه لویـــه باریـــک ده نـری لـــه مویـــه
ربـــه مـــا پـــه لارې ســـم کـــړی برابـــره
هـم مـې بېـل کـړه کجـه لاړ لـه بـده خویـه
د میثـاق پـه ورځ هـر چـا وعـده ورکـړې
اوس منکـر شـهٔ خلـق ډېـر لـه خپلـه اویـه
پـه ازلـي قسـمت راضـي وُسـه زرداده!!
پـه مـؤمن یـې کـړې ده بخـره ده لویـه
مـا زرداد کـړی پـه امـان د دغـو دواړو
د دوزخ لـــه ګرمـــه یخـــه لویـــه جویـــه

دې سره سره شاعر د دنیا د بې ثباتۍ نقشه ډېره په ښکلې پېرایه کښې راکاږي- د حرص او د دنیا د زېب او زینت نه د ځان ژغورلو تلقین کوي او په دې حواله ګڼ مثالونه وړاندې کوي:

دا د دې عظـیم دریـاب یـې انتهـا شـته
نـهٔ پـوهېږم انتهـا یـې پـه کـوم خـوا شـته
هـېڅ امیـد نـهٔ شـته د عمـر پـه جهـاز
چـې اجـل پکښـې نهنـګ لویـه بـلا شـته
د حرص کشـتۍ همه شوې پکښـې غرقـې
راخاتـهٔ پکښـې د صـبر پـه مـلاح شـته

د دنیـــا زینـــت همـــه واړه فـــاني دی
یـو مثـال یـې پـه دنیـا ګـل د لالـه شـته
د عقبـی او د دنیـا پیوسـتون نـهٔ شـي
د عقبـی ژونـدون پـه ذکـر د الله شـته
د دنیـا لبـاس بـه پـاتې پـه دنیـا شـي
ډېر ثواب په کتاب لیک د بسم الله شته
دا دنیـا ځـای د امیـد نـهٔ دی زرداده!
ؤ پـرون دور د چـا، نـن پـرې د چـا شـته

**افاقیت**:

د افاقیت په معنوي حدونو کښې د ابدیت مفهوم هم شامل دی- انسان دوستي، عشق، مینه، محبت، ښائست، انصاف، خېر، صداقت او داسې نور موضوعات د افاقیت په زمره کښې راځي- اوس چې مونږ په دغه تناظر کښې د زرداد جنډه خېل د بهرام شهزاده او ګل اندامې قیصه مطالعه کوو نو په ډېرو ځایونو کښې داسې بېتونه مو ترمخې راځي، چې هغه د افاقي ادب په زمره کښې راځي- دلته یو څو مثالونه ملاحظه کړئ چې شاعر په کښې د خپل ژوند د مشاهدو او تجربو نچوړ وړاندې کړی دی- دغه بېتونه نهٔ یوازې په خپل نص کښې د عالمي صداقت علمبرداره دي، بلکې په دوي کښې موجود عالمګیریت د قاري د پاره د میل د کاڼي حیثیت لري:

د دنیـــا غمونـــه غـــم نـــهٔ دی زرداده!
کهٔ خبر شي څوک د عشق له سوي راغه

-------

هـــدایت چـــې چاتـــه شـــوی وي زرداده!
د هغوي غوخ په مقراض شي د غم وُلې

هغــه کــار چــې پــه تقــدير برابــر نـهٔ وي
حکيمـا ن ځـي د حکمـت سـپېرهٔ منګـولې

د هرکــار تکيــه پــه خــدای ښــه ده زرداده!
مـا پـه خـدای د ديـن دنيـا چـارې سـپارلې

د ميثــاق پــه ورځ هرچــا وعــده ورکــړې
اوس منکـر شـهٔ خلـق ډېـر لـه خپلـه اويـه

د هجـران پـه مخکښـې پُـل تړلـی نـهٔ شـي
عاشــقان د خرخشــې پــه شــان لاهــو کــا

**منظر کشي:**

په شاعری کښې بالعموم او په قيصه يا داستان کښې بالخصوص منظر کشی ته زښت اهميت حاصل دی- په قيصه کښې د منظر کشی هغه حېثيت دی کوم چې په جسم کښې د روح دی- د بهرام شهزاده او ګل اندامې په دې قيصه کښې ډېر ځايه زرداد جنډه خېل په ډېره ښکلې پېرايه کښې د منظر کشی کمال ښودلی دی- د سراسيا د ښار "شهرآئين" منظر کشي يې ملاحظه کړئ:

نــوم د ښــار د سراســيا شــهر آئــين ؤ
رنګــا رنــګ وو پــه کښــې نقـش محلونــه
هــېڅ حجـاب بــه پــه کښــې يــو تربلــه نـهٔ ؤ
لـــه آئينـــه يـــې رغ کـــړي ديوالونـــه
(وو) درون بېــرون يــې واړه بــې حجابــه
هـر طـرف يـې پـه کښـې ايښـي دوربينونـه
کــل زينــت واړه مثــال يــې د جنــت ؤ
ښــاپېری کــا پــه کښــې حُـورې اوازونـه
سپين رخسار په کښې د يار نشته زرداده!
بهــرام تــرک کــړهٔ دغــه واړه نعمتونــه

دغسې د بهزاد د لښکر منظر کشي يې هم ښۀ په زړۀ پورې انداز کړې ده- يو څو شعرونه يې ولولئ:

ننداره يې د بهزاد د لښکر وکړه
د بخملو يې خېمې په ښۀ زينت
هر سپاهی يې په ښۀ شان ؤ جوړولې
د بهزاد لښکر ښائسته په هر صفت
خوف خطر يې په زړۀ هېڅ له چا نه نۀ شته
په هر وخت يې غړۀ دور و نوبت
هر سپاهي يې د جنګ لاڤې کولې
هر يو به سمبالېدۀ په ښۀ زينت

خو د زرداد جنډه خېل د منظر کشۍ کمال هغه وخت په پوره جوبن سره مخې ته راځي چې کله هغه په منظر نګارۍ کښې د رومان يوه داسې فضا تخليق کولو کښې کامګار شي، چې هغه رنګينه هم وي او پُر سروره هم:

نن به خلقه زما زړۀ ذرې ذرې کا
له همځولو سره ټوقې مسخرې کا
د سپرلو کلو له ځې نيت يې د سېل دی
دا يوه جله مې بلې ته نعرې کا
چې موسم شي د بهار سېلونه کاندي
خيالؤلې جونه سازې پرې وارې کا
په خندا خندا راووتې له کوره
نۀ پوهېږم چې په چا به سترګې سرې کا
نن خوره شوه خوشبوئي په درست جهان کښې
اوس غوټۍ سپړي ګلونه منجرې کا
د سپرلي په ورځ به ډېرې ننداري وي
چې ګلونه په اوربل باندې پرې کا
چې ګلونه ټولوي سندرې وائي

تـورې زلفـې پـه سـپین مـخ بانـدې خـورې کـا
دا یـــوه غنچـــه پـــه لاس بلـــه پـــرې نیســـي
د اترنګـو پـه بـاغ ځـي منګـولې سـرې کـا
چـــامې دواړه زلفـــې ډکـــې کـــړې د ګلـــو
څـوک تـرې ډکـې جـولۍ وړي تـرې ذخیـرې کـا
پـــه مکېـــز مکېـــز راووتـــې لـــه باغـــه
اړولـــې پـــه اوربـــل ټنګـــې ســـورې کـــا
د نـــارنج د ونـــې لانـــدې شـــولې جمـــع
جـــولۍ وســـپړدې د ګلـــو ننـــدارې کـــا
بنـد پـــه بنـد چـې خوشـبوئۍ ږدي د لونګـو
پـــه ســـینه د ګلـــو ســـازې دائـــرې کـــا
اوس ببـــدار شـــه ورتـــه لاس نیســـه زرداده!
د هغـو خـاورې پـه سـر چـې څـوک اسـرې کـا

لکه څنګه چې د دې برخې په شروع کښې اشارتاً ذکر شوی، چې د زرداد جنډه خېل دا قیصه د ژبې او بیان په حواله ګڼې خوبۍ لري- نو په دې حواله د دې قیصې مطالعه دا حقیقت راښائي چې د دې قیصې د بیان انداز بالکل ساده، د تصنع نه پاک، فطري او زړۀ راښکونکی دی- د بیان د ښکلا او زړۀ راښکون د پاره په کښې ځای په ځای متلونه، محاورې، د پښتو سوچه روزمرې، ښائسته ترکیبونه او تلمیحات استعمال شوي دي، چې قدم په قدم د قیصې دلچسپي برقرار ساتي:

## متل او محاوره:

متل او محاوره د ژبې هغه اسالیب دي، چې په کښې یوه ژبه ساه اخلي- د متل او محاورې دواړو تعلق نېغ په نېغه د تهذیب سره دی- په دواړو کښې د پېړو تهذیب او دانش پټ وي، چې د راتلونکیو نسلونو لار ښودنه کوي- متل پوره جمله وي خو محاوره جمله نۀ وي بلکې د لفظونو

داسې مجموعه وي چې د مصدر په علامت باندې ختمېږي او مجازي معنی ورکوي- د زرداد جنډه خېل په زېربحث قیصه کښې د متلونو، محاورو او روزمرو استعمال ځای په ځای ډېر برجسته شوی دی، چې د کلام حسن یې سېوا کړی دی- څو مثالونه یې وګورئ:

ورته وایه نمر په ګوته نهٔ پټېږي
دومره صبر د چا نهٔ شي په زړهٔ سخته

چې فلک بهرام کړه مور پرې باندې بُوره
تهٔ رټلی د جهان خانه خراب یې

اوس بېدار شه ورته لاس نیسه زرداده!
د هغو خاورې په سر چې څوک اسرې کا
په خندا خندا راووتې له کوره
نهٔ پوهېږم چې په چا به سترګې سرې کا

بیا چې نوم زما په خلهٔ چرې وانخلې
نور دصبر پیالې ښه ګرځه معموره

د غم ونه زرغونه زما په زړهٔ شوه
شوه مې سپینه جامه داغ مرم له پېغوره

حکایت ورته همت وکړهٔ زرداده!
د بهرام اوښکې شوې زیم ځي د دسماله

## تلمیحات:

د زرداد جنډه خېل د دې قیصې په ځینو بېتونو کښې د پخوانو شخصیاتو، واقعاتواو قصو کردارونو ته ځنې اشارې په نظر راځي، چې د تلمیح په زُمره کښې راځي- تلمیحات په اصل کښې زمونږ د بزرګانو د قدمونو هغه نخښې دي، چې په هغې مونږ په اپُوټه قدمونو متعلقه واقعې ته رسو، څو مثالونه یې وګورئ:

دې بهرام مې له افسوسه اوخکه کُوکه
مرتبه مې کمه نۀ شي له ملوکه
ملوک ؤ دولس کاله په درياب کښې
مشغولا مجلس يې ؤ له سعد ملوکه

نور بهرام يې کړۀ روان د روم وطن ته
بخت وزير په عقل زيات ؤ له ايازه

دا رنګ حال په عاشقۍ کښې د لدا ؤ
په دنيا شۀ لاس بردار د خپل (ميراثه)
داسې ټينګ د يار په پټ اوسه زرداده!!
چې دې مينه له لدا نه شي د پاسه

په بهزاد باندې دا هسې کانه وشوه
لکه دارا د لاسه قتل د سکندر شۀ
خوا مې نۀ ده سړه شوې ستا په مينه
زۀ په عشق کښې قلندر او تۀ مې ميرا يې

پرته له دې په دې قيصه کښې ذکر شوی د قيصه ايزادب هغه ټول کردارونه تلميحاتي رنګ لري، چې څۀ نمونې يې په تېر شوي بحث کښې ورکړې شوې دي- په دغو کردارونو کښې لېلی مجنون، شېرين فرهاد، ګل صنوبر، هيررانجها، ميرزا صاحبان او نور په خصوصي توګه د ذکر وړ دي-

ضميمه:



# حوالې

1. صادق، سيدمحمود، د خوښکو زمکې ته سلام (نظم مشموله) ادبي څهرې (مرتبه) پرويزمهجور، پيښور، ارزاني پښتو ادبي ټولنه خوښکي، س ن، مخ: ۸۴
2. پرويز مهجور، (ديباچه) ادبي څهرې، مخونه: ۸-۹
3. غالب ترين، فرهاد محمد، ملک شيرعلي خان بابا مشموله غږ، پښتو ادبي ټولنه خوښکي، اکتوبر ۱۹۸۴ء
4. غالب ترين، فرها محمد، ملک شيرعلي خان بابا مشموله د ضلع نوښار تيرهير شاعران (مرتبه) سيف الاسلام سيف، مرکزي پښتو ادبي جرګه نوښار، ۱۹۹۳ء، مخ: ۱۰۸
5. عابد، عبداللہ جان، پشتو زبان وادب کی مختصر تاریخ، یونیورسٹی پبلشرز، پشاور، طبع دوم، ۲۰۱۱ء، ص، ۳۵۱
6. Arif Naseem, Prof. Dr, Abdul hameed, (compilers), Descriptive Catalogue of Manuscripts Pashto academy, Library, V 1, Pashto Academy Peshawar University, p:83